
# د پیرانِ پیر رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ
# ښکلې اداګانې

(04-October-2025)



## د اِجتماع غوثیه بیان

(For Islamic Brothers)

د اِجتماعِ غوثیه بیان

(پۀ 11 ربیع الآخر، کال 1447ھ/ 4 اکتوبر کال 2025ء د خالي او د اتوار پۀ مینځنۍ شپه لوئي یولسمه شریف)

# د پیرانِ پیر رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه ښکلي اداګاني

پہ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لاس مبارک یې ښکل کړۀ
- پۀ الله والؤ پسې د تللو حکم
- دځان خوښۍ نه پرهیز وکړئ
- که پۀ دې ځائے کښې لړم وے نو---؟

پیشکش

اَلۡمَدِیۡنَةُ الۡعِلۡمِیَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د دواړو جهانو د مالِک او مختار، مکي مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** کوم مسلمان سره چې د صدقې کولو د پاره څه نه وي هغهٔ له پکار دي چې په خپله دعا کښې دا وائي:

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَی مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُولِكَ وَصَلِّ عَلَی الْمُؤْمِنِینَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِینَ وَالْمُسْلِمَاتِ

نو دا [دُعا] بې شکه پاکوونکې ده او مومن کله هم په نیکئ کولو نهٔ مړیږي تر دې پورې چې جنت د هغهٔ د اوسیدو ځائے شي. (1)

**د حدیث شرح:** څوک چې د صدقې ورکولو قدرت نهٔ لري، د هغهٔ د رسولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره د **اللّٰه** پاک نه د رحمت دعا کول یعنې درود پاک وئیل د هغهٔ د پاره صدقه دے. (2)

جن کا لقب ہے مصطفٰے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ
ان سے ہمیں ملا خدا صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ
مشکلیں اُن کی حل ہوئیں قسمتیں اُن کی کھل گئیں
وِرد جنھوں نے کرلیا صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ (3)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

1...صحیح ابن حبان، کتاب الرقاق، ذکر بیان بان صلاة الداعی...الخ، صفحه:348، حدیث:903۔
2...السراج المنیر بشرح جامع الصغیر، جلد:2، صفحه:103۔
3...دیوانِ سالک، صفحه:2524 ملتقطاً۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے- [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښېنم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د خدائے رحمت ورکوي یولسمه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! نن **لویه یولسمه شریف** ده- تیره میاشت مونږ ښهٔ پهٔ ادب او عقیدت سره د ماهِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **دولسمې شریف** دنمانځلو سعادت حاصل کړو- اوس د **یولسمې شریف** د نمانځلو سعادت حاصلوو-

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه لیکلي دي: حُضُور غوثِ پاک شیخ عبد القادر جیلاني رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه به دولسمه شریف (یعنې د محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم میلادِ پاک) ډیر پهٔ اهتمام سره کولو، یوه ورځ ورته د رسولانو سردار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خوب کښې تشریف راوړلو او اوئې فرمائیل: اے **عبد القادره! تا مونږ پهٔ دولسمې سره یاد کړو، مونږه تا ته یولسمه درعطا کوو-** [2]

**اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه!** د هغه وخت نه اوسه پورې د یولسمې شریف لړۍ روانه ده- اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! تر قیامته پورې به روانه وي-

---

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

2... جاء الحق، صفحه:220۔

جب اپنے غوثِ پاک کی آتی ہے گیارہویں | سب کو بہارِ تازہ دِکھاتی ہے گیارہویں
ہوتی ہیں دُھوم دھام سے عالَم میں محفلیں | کانوں کو مدحِ غوث سُناتی ہے گیارہویں
اَجرِ عظیم بانیٔ محفل کو ملتے ہیں | رحمت خُدائے پاک کی لاتی ہے گیارہویں
ہوتا ہے ہر مرید کا کیا باغ باغ دِل | گل گلشنِ جماعت دِکھاتی ہے گیارہویں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو غوثانو غوث

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** زمونږه حُضُور غوثِ پاک شیخ عبد القادر جیلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د پیرانو پیر دے، پیر دستګیر دے- هغوئي حَسَني، حُسیني سید دے، رَبِّ کریم هغوئي ته اوچته مرتبه عطا کړې ده- اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ لیکلي دي چې غوث په خپل دور کښې د ټولو اولیائے کرامو سردار وي او زمونږه حُضُور (غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ) د اِمامِ مهدي د راتلو پورې د ټول عالَم غوث، د ټولو غوثانو غوث او د ټولو اولیائے کرامو سردار دے، د ټولو په څټونو باندې د هغوئي قدم مبارک دے- (1)

تو ہے وہ غوث کہ ہر غوث ہے شیدا تیرا | تو ہے وہ غیث کہ ہر غیث ہے پیاسا تیرا
سورج اگلوں کے چمکتے تھے چمک کر ڈوبے | افقِ نور پہ ہے مہر ہمیشہ تیرا (2)

**وضاحت:** یعنې اے زما آقا! د بغداد شهنشاه تاسو د داسې شان والا یئ چې هر یو غوث ستاسو عاشق دے تاسو هغه د کرم وریځ ئې چې نورو له فیض ورکوونکي ستاسوتګې دي د مخکښینو اولیاؤ شان ډیر اوچت شو خو د یو وخت پورې--!! خو اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ستاسو د شان نمر به هر وخت راختلے ولاړ وي-

1...فتاوٰیٰ رضویه، جلد:26، صفحه:559 بتصرف قلیل۔

2...حدائقِ بخشش، صفحه:23۔

# پهٔ الله والؤ پسې د تللو حکم

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نن به مونږه د پيرانِ پير، پير دستګير حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د يو څو ښکلو ښکلو اداګانو د اوريدو سعادت حاصلوو- د دې ښکلو ښکلو اداګانو اهميت څهٔ دے، دا مونږ د قرآنِ کريم پهٔ رڼا کښې زده کوو- **الله** پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَّ اتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ (پاره:21، سورۀ لقمان:15)

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** او زما طرف ته د رجوع کوونکي ګس پهٔ لاره څه-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ دې آيت مبارک کښې مونږ ته د هغه چا پهٔ لاره باندې د تللو حکم راکړے شوے دے، څوک چې د **الله** پاک طرف ته رجوع کوونکي يعنې د **الله** پاک کمال فرمانبرداری کولو والا دي-

❀ يقيناً چې پهٔ دې دُنيا کښې د ټولو نه زيات د **الله** پاک طرف ته رجوع کوونکې هستي زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ده ❀ بيا انبيائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام بيا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ وسيله صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم هم د **الله** پاک طرف ته رجوع کوونکي دي ❀ اوليائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم هم د **الله** پاک طرف ته رجوع کوونکي دي ❀ حُضُور غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم بے شکه د **الله** پاک طرف ته رجوع لرونکے بلکې د لکونو خلقو د **الله** پاک بارګاه ته رسوونکے دے-

## د سوداګر کار وشو

پهٔ تَفرِيح الخاطر(د کتاب نوم دےپه دي)کښې دي چې: پهٔ مِصر کښې يو سوداګر اوسيدو، پهٔ حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير مئين وو، ډير عقيدت يې ورسره لرلو، هغهٔ پهٔ زړهٔ کښې پوره اِراده کړې وه چې زهٔ به مُريد جوړيږم نو د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به

جوړېږم، د هغوئي پۀ لاس باندې د بیعت کولو د پاره بغداد شریف ته یې تلل هم غوښتل خو د هغۀ قِسمت خراب وو چې بغداد ته یې حاضري نۀ نصیب کېدله-

داسې پۀ ارادو کولو کولو 40 کاله تېر شول- اخر یو ځل دۀ همت وکړو او بغداد شریف ته ورسیدو- کله چې هلته لاړو نو معلومه شوه چې حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه خو د دُنیا نه پرده فرمائیلې ده-

اَللّٰهُ اَکۡبَرۡ! د ډیرو کلونو خواهش چې یې نن پوره شو نو محبوب پردې ته تشریف وړے دے- د هغۀ د ښپو د لاندې نه چې لکه زمکه وتښتیدله، ډیر خفه شو- خیر مزار شریف ته حاضر شو، ډیر پۀ ادب سره هغۀ د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه د مزار مبارک د زیارت کولو سعادت حاصل کړو، څنګه چې مزار مبارک ته حاضر شو نو پۀ هغۀ باندې کرم وشو، هغه غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه د کوم د محبت شمعې چې هغۀ د کلونو نه پۀ زړۀ کښې بلې ساتلې وې، هغه غریب نواز، کرم شعار غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَیۡه پۀ غړیدلو سترګو خپل غلام ته دیدار ورعطا کړو، خپل مُرید یې هم جوړ کړو او د کرم پۀ یو نظر مبارک یې د اِنابت درجې ته هم ورسولو- (1)

د ټولو نه جُدا کیدل او صرف د **اللّٰه** پاک طرف ته رجوع کولو ته اِنابت وئیلے شي- دا د تصوف د ټولو نه اوچته درجه ده-

کیوں نہ قاسم ہو کہ تو ابن ابی القاسم ہے | کیوں نہ قادر ہو کہ مختار ہے بابا تیرا (2)

**وضاحت:** خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **اللّٰه** پاک په عطا سره مالک او مختار او د هغۀ نعمتونه تقسیموونکے دے، اے زما پیر او مرشده! تاسو د هغوئي د سترګو تور او د زړۀ سر یئ نو د هغوئي په وسیله به تاسو مالک او مختار او نعمتونه تقسیموونکے ولې نه یئ؟

---

1...تفریح الخاطر، المنقبة الحادية و العشرون، صفحه:3130 مفصلاً-

2...حدائقِ بخشش، صفحه:20-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** غور وکړئ چې هُغه د شان والا غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه چې د کرم نظر وکړي نو د اِنابت درجې ته رَسَوَل کوي، هغه به پخپله د څومره اوچتې مرتبې والا مُنِيب (يعنې د **الله** پاک طرف ته رجوع کوونکے) وي- **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَّ اتَّبِعۡ سَبِيۡلَ مَنۡ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ (پاره:21، سورهٔ لقمان:15) | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** او زما طرف ته د رجوع کوونکي ګس پهٔ لاره ځه- |

يقيناً چې حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه هم د **الله** پاک طرف ته رجوع کوونکے دے، ځکه مونږ له هم پکار دي چې د هغوئي د ښکلي ښکلي، د نُور نه د ډک سيرت نه رڼا حاصله کړو او د هغوئي اداګانې زده کړو، هغه پهٔ خپل ژوند کښې عملي طور اختيار کړو او د ښهٔ کردار والا مسلمان جوړيدو کوشش وکړو- **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- راځئ چې د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د يو څو ښکلو ښکلو اداګانو د اوريدو سعادت حاصل کړو:

## د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لاسونه يــې ښکل کړل

پهٔ **تَفرِيح الخاطر** کښې دي: يو ځل حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه مدينے منورې ته حاضر شو، تر 40 ورځو پورې به پهٔ مواجهه شريف (يعني د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ مبارک طرف ته) حاضريدو، لاس پهٔ نامه به يــې عرض کولو:

ذُنُوۡبِیۡ کَمَوۡجِ الۡبَحۡرِ بَلۡ ھِیَ اَکۡثَرُ | کَمِثۡلِ الۡجِبَالِ الشُّمِّ بَلۡ ھِیَ اَکۡبَرُ
وَ لٰکِنَّھَا عِنۡدَ الۡکَرِیۡمِ اِذَا عَفَا | جَنَاحٌ مِنَ الۡبَعُوۡضِ بَلۡ ھِیَ اَصۡغَرُ

**ترجمه:** يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما ګناهونه د سمندر د چپو همره بلکې د هغې نه هم زيات دي، د مضبوط غر همره بلکې د هغې نه هم غټ دي خو کريم چې يې کله معاف کړي نو د دغه ګناهونو حيثيت د ماشي د وزر برابر بلکې د دې نه هم کم پاتې شي-

تر 40 ورځو پورې پرله پسې هغوئي دا عرض پیش کولو، بیا یوه ورځ حاضر شو او عرض یـې وکړو:

فِیْ حَالَةِ الْبُعْدِ رُوحِیْ كُنتُ أُرْسِلُهَا | تُقَبِّلُ الْأَرْضَ عَنِّیْ وَهِیَ نَائِبَتِی
وَهَذِهِ نَوْبَةُ الْأَشْبَاحِ قَدْ حَضَرَتْ | فَامْدُدْ یَمِینَكَ كَیْ تَحْظَیٰ بِهَا شَفَتِی

**ترجمه:** یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! کله چې زۀ لرې ووم نو خپل رُوح به مې ستاسو بارګاه ته رالیږلو، زما رُوح زما نائب جوړیدو او ستاسو د پاک دَر زمکه به یـې ښکلوله، یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! اوس پۀ جسماني توګه د حاضرۍ سعادت میلاؤیږي، خپل لاس مبارک راکړئ! چې زما شونډې د لاس مبارک د ښکلولو شرف حاصل کړي۔

بس دومره عرض کول وو چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضې مبارکې نه لاس مبارک راووستولو، غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه لاس میلاؤ کړو، لاس مبارک یـې ښکل کړو او د سَر سره یـې ولګولو۔ (1)

واه کیا مرتبہ اے غوث ہے بالا تیرا | اونچے اونچوں کے سروں سے قدم اعلیٰ تیرا
سر بھلا کیا کوئی جانے کہ ہے کیسا تیرا | اولیا ملتے ہیں آنکھیں وہ ہے تلوا تیرا (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!        صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مزار نه بهر د لاس راویستو دلیل

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه شان ته وګورئ چې څومره اوچت دے، هغوئي د رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ بارګاه کښې ډیر اوچت مقام لري، څکه خو پۀ هغوئي باندې داسې کرم وشو، رسولِ رحمت، شفیعِ اُمت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل لاس مبارک د مزار مبارک نه راویستو او د ښکلولو موقع یـې ورعطا کړله۔

---

1...تفریح الخاطر، المنقبة الثانیة والعشرون، صفحه:31۔

2...حدائقِ بخشش، صفحه:19۔

پۀ زړۀ کښې وسوسه راتلے شي چې د ظاهري وصال نه پۀ صدو وروستو داسې لاس مبارک د قبر نه بهر راوتلے کیدے شي---؟ ډیره اسانه خبره ده، چې **اللّٰه** پاک وغواړي نو څۀ نشي کیدے؟ بے شکه د **اللّٰه** پاک پۀ قدرت کښې د هیڅ کمے نشته، د هغۀ پۀ عطا کښې هیڅ منع نشته- هٰغه د قدرتونو والا رَبِّ کریم خپل محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته اِختیارات عطا کړي دي- پۀ چا ته چېغواړي او څنګه یې غواړې کرم کولے شي-

پۀ روایاتو کښې دي : د مِعراج پۀ شپه چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام پۀ مزار مبارک راتیریدلو، اوئې کتل چې حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام پۀ مزار مبارک کښې دننه ولاړ دے او نـمونځ ادا کوي-(1)بیا د دې ځائے نه روان شو او مسجدِ اقصیٰ ته ورسیدو، هلته حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام نۀ بلکې ټول انبیائے کرام عَلَیۡهِمُ السَّلَام د هر کلي د پاره موجود وو- (2)

## انبیائے کرام عَلَیۡهِمُ السَّلَام ژوندي وي

وګورئ چې 4 نبیان ژوندي دي، هغوئي تر اوسه پورې ژوند کوي، باقي کم او زیات 1 لاکھ 23 زره 9 سوه 96 انبیائے کرام عَلَیۡهِمُ السَّلَام د خپلو مزارونو نه راپاخیدلي وو او مسجدِ اقصیٰ ته یې تشریف راوړے وو- چې انبیائے کرام عَلَیۡهِمُ السَّلَام د مزارونومبارکو نه راوتلے شي او داسې پۀ دُنیا کښې جلوه فرمائیلے شي نو ووایئ چې صرف لاس مبارک خو راویستل هډو څۀ خبره نۀ ده- اَلْحَمْدُلِلّٰه! نبیان ټول ژوندي وي، پۀ هغوئي مرګ راځي خو د لږ ساعت د پاره، بیا د هغوئي رُوح مبارک هغوئي ته واپس کړے شي، پۀ حدیثِ پاک کښې دي: نَبِیُّ اللّٰهِ حَیٌّ یُّرْزَقُ یعنې داللّٰه پاک نبي عَلَیۡهِ السَّلَام پۀ خپل مزار کښې ژوندے وي، رزق ورکولے کیږي- (3)

1...مسلم، کتاب الفضائل، باب من فضائل موسی، صفحه:927، حدیث:2375-
2...نسائی، کتاب الصلاۃ، باب فرض الصلاۃ...الخ، صفحه:81، حدیث:448 ماخوذاً-
3...ابن ماجه، کتاب الجنائز، باب ذکر وفاته و دفنه، صفحه:263، حدیث:1637-

بهر حال! د مقبولو بندګانو د پاره د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې لاس مبارک د مزار مبارک نه راويستل او هغوئي ته د لاس د ښکلولو سعادت عطا کول څۀ د حيرانتيا خبره نۀ ده- دا خو د هغوئي پۀ اعلىٰ ترينو معجزو کښې يوه معجزه ده-

## د مدينے منورې د تصور عادت جوړ کړئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د ايمان تازه کوونکې واقعې نه د هغوئي شان هم معلوم شو، ورسره ورسره د هغوئي يوه ښکلې ادا هم معلوميږي- غوثِ پاک پۀ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې عرض وکړو:

فِيْ حَالَةِ الْبُعْدِ رُوحِيْ كُنتُ أُرْسِلُهَا | تُقَبِّلُ الْأَرْضَ عَنِّيْ وَهِيَ نَائِبَتِيْ

**ترجمه:** کله چې زۀ لرې ووم، پۀ بغداد شريف کښې به ووم نو خپل رُوح به مې ستاسو بارګاه ته راليږلو، زما رُوح به زما نائب جوړيدو او ستاسو د پاک دَر زمکه به يـې ښکلوله-

سُبۡحٰنَ اللّٰه! وئيلے کيږي:

عشقِ مصطفٰے جس کے سینے میں ہے | وہ کہیں بھی رہے مدینے میں ہے

د حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د مدينے منورې عشق ته وګورئ! څومره د کمال دے- هغوئي پۀ بغداد کښې اوسيږي او رُوح مبارک يـې د مدينے منورې سيل کوي-

د حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه شان خو ځانګړے دے، هغوئي به رُوح مبارک مدينے منورې ته ځنګه ليږلو، پۀ دې خو هغوئي پوهيږي، د دې نه چې مونږ ته کوم سبق ميلاؤ شو، هغه دا چې مونږ له هم د مدينے منورې د تصور عادت جوړول پکار دي- کله نا کله بلکې روزانه ځانله کښينئ، سترګې پټوئ، پۀ تصور تصور کښې مدينے ته ځئ، د شنو جنګلو مخې ته لاس پۀ نامه ودريږئ ❀ کله د در مبارک چوکاټ ښکلوئ ❀ کله بابِ جبريل ته حاضري کوئ، ❀ کله پۀ رياضُ الجنه کښې حاضري ورکوئ ❀ کله د مسجدِ

نبوي شريف ستنو ته غاړه وځئ ❁ کله هم پهٔ تصور تصور کښې د شنې جنګلې نظارې کوئ- داسې پهٔ روحاني توګه پهٔ خيالونو کښې مدينے منورې ته د حاضرۍ مونږ له عادت جوړول پکار دي-

کاش چې پهٔ زړهٔ کښې مو د مدينے منورې عشق کور وکړي، کاش چې دا حالت وي چې مونږ هم وايو:

جب نظر سُوئے طیبہ روانہ ہوئی، ساتھ دِل بھی گیا، ساتھ جاں بھی گئی

میں منیرؔ اب رہوں گا یہاں کس لیے، میرا سارا اَثاثہ مدینے میں ہے

## صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہم او تصورِ مصطفٰے

تاسو ته د مزې يوه خبره وکړم: مونږ مدينه ليدلې ده، هلته مو پهٔ حاضريدو نهٔ ده ليدلې نو پهٔ تصويرانو کښې خو به مو ضرور ليدلې وي، صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم د هغه شان والا دي کومو چې د مدينے د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زيارت شرف موندلے وو- د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم عادت وو چې هغوئ به تصّور مصطفٰے کولو- صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم چې به کله حديثونه مبارک بيانول نو وئيل به يې: زهٔ لکه چې محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وينم، هغوئې داسې فرمائيل: ❁ حضرت مُغِيرَه بن شُعبه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ موزو باندې د مسح والا روايت بيان کړو، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ تصور کښې يې وفرمائيل: كَاَنِّىْ اَنْظُرُ اِلٰى اَصَابِعِهٖ عَلَى الْخُفَّيْن لکه چې زهٔ هغوئې وينم چې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارکې ګوتې پهٔ موزو باندې دي[1] ❁ يو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غسل وفرمائيلو او د نمونځ د پاره يې تشريف راوړلو، کله چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو، د حضرت عبد الله بن عبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا سترګو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ديدار شرف حاصلولو، دا منظر

1 ...مصنف ابن ابی شیبہ، کتاب الطھارات، باب من کان لا یری المسح، جلد:1، صفحه:214، حديث:14۔

هغوئي پۀ خپلو سترګو کښې نقش کړو، بيا دا حديث شريف کله چې هغوئي ورو ستنو خلقو ته بيانوو نو اوئې فرمائيل: كَاَنِّىۡ اَنۡظُرُاِلَيۡهِ الۡاٰنَ يَقۡطُرُ رَاسُهٗ مَاءً لکه چې زۀ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وينم چې هغوئي تشريف راوړي او د مبارکو زلفو نه يې اوبۀ ښاڅي-(1)

اوس وګورئ چې صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم به د کوم کمال پۀ انداز سره حديثونه بيانول، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکې اداګانې به يې پۀ خپل زړۀ کښې نقش کولې، بيا به يې يو يو لفظ وئيلو او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ تصور کښې ورکيدل -

هغوئي د ديدار مصطفٰے شرف موندلے وو، هغوئي به د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تصور جوړولو، مونږه مدينه منوره ليدلې ده، مونږ له پکار دي چې مونږ د مدينے منورې تصور جوړوو- **الله** پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہر وقت تَصَوُّر میں مدینے کی گلی ہو | اور یاد محمد کی مرے دِل میں بسی ہو
دو سوزِ بِلال آقا، ملے درد رضا سا | سرکار عطا عشقِ اویس قرنی ہو
اے کاش! میں بن جاؤں مدینے کا مُسَافِر | پھر روتی ہوئی طیبہ کو بارات کو چلی ہو(2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## عاجزي به يې اِختياروله

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ پۀ ښکلو ښکلو اداګانو کښې يوه ښکلې ادا دا هم ده چې هغوئي به د ځان خوښې نه ځان ساتلو، هميشه به د عاجزۍ او انکسارۍ نمونه جوړيدلو- پۀ دې باره کښې يوه ډيره ښکلې واقعه پۀ کتابونو کښې ليکلے

1... بخاری، کتاب مواقیت الصلاة، باب النوم قبل العشاء...الخ، صفحه:208، حدیث:571۔
2...وسائلِ بخشش، صفحه:314۔

شوې ده، يو ځل چا يوه ډېره قيمتي آئينه هغوئي ته پيش کړه- هغوئي آئينه خادِم ته حواله کړه او اوئې فرمائيل: کله چې درته زۀ ووايم نو دا آئينه به بيا ما له راکړې-

يوه ورځ داسې وشو چې هغه قيمتي آئينه د خادِم نه ماته شوه- خادِم ډېر پريشانه شو، سوچ يې کولو چې څنګه ورته ووايم چې زما نه آئينه ماته شوې ده- اخر يې يوه ښکلې جمله په سوچ کښې راوستله، د غوثِيت بارګاه ته حاضر شو، عرض يې وکړو:

اَزْ قَضَا آئِیْنَهٔ چِیْنِیْ شِکَسْت

**ترجمه:** يعنې تقدير غالب شو او چيني آئينه ماته شوه-

حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ‌عَلَیۡه بے اختياره وفرمائيل:

خُوْبْ شُدْ کِهْ اَسْبَابِ خُوْدْ بِیْنِیْ شِکَسْت

**ترجمه:** يعنې ښۀ وشو چې ځان ته د کتلو آله ماته شوه-

سُبۡحٰنَ‌الله! يو خو په دې کښې دې ته وګورئ چې په ظاهره نقصان وشو، قيمتي آئينه ماته شوه، دلته په کورونو کښې چې داسې څۀ مسئله وشي، د ماشوم نه څۀ څيز مات شي، چائے ترينه توئي شي، جامې استري کوي او وسوزي، ماشوم دُکان ته د څۀ راوړو د پاره وليږې، د هغۀ نه پيسې چرته پريوځي او داسې ډېر قِسمه واړه نقصانونه په کورونو کښې، په دکانونو کښې، په دفترونو کښې، د ملازمانو وغيره نه کيږي، نو خلق په داسې موقع باندې غصه کيږي- ❀ ړوند يې څۀ؟ ❀ يو کار هم صحيح نشي کولے ❀ لاسونه دې مات شوي وو---؟ داسې مونږ بے اختياره په خُله غلطې خبرې راولو-

د حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ‌عَلَیۡه انداز مبارک ته وګورئ چې قيمتي آئينه ترينه ماته شوه، هغوئي په دې نقصان کښې هم ښۀ والے راوويستو- اوئې فرمائيل: ډېر ښۀ وشو، ځان ته د کتلو آله ماته شوه-

مونږ له هم داسې کول پکار دي، دا خبره په ذِهن کښې ساتئ چې په هر نقصان کښې ښۀ طرف موجود وي- مونږ له پکار دي چې ښۀ طرف ته ګورو-

## که په دې ځائے کښې لړم وے نو---؟

د غوثِ پاک رَحمَۃُاللّٰہِعَلَیْہ عاشق امیرِ اهلِسُنَّت یو ځل په یو ځائے تیریدو، د هغوئي ښپه ناڅاپه د شاتو په مچۍ راغله، د شاتو مچۍ هغوئي وچیچلو، هغوئي یو دم بیتابه شو اوښپه یې اوچته کړه، چې اوئې کتل نو لاندې ترینه د شاتو مچۍ پرته وه، یو اِسلامي وروړ د هغې د مړه کولو د پاره ور وړاندې شو، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه منع کړو او اوئې فرمائیل: د دې څۀ قصور دے، قصور خو زما دے چې ما په دې ښپه کیښوده- نور یې وفرمائیل: **دا خو د شُکر مقام دے، که د شاتو د مچۍ په ځائے لړم وے، زۀ یې چیچلے وے نو څۀ به وو---؟**

سُبْحٰنَ اللہ! دې ته وئیلے شي په نقصان کښې ښۀ طرف راویستل- مونږ له پکار دي چې د غصه کیدو په ځائے، د غلطو جملو په خُله باندې د راوستو په ځائے په نقصان کښې هم د ښۀطرفسوچ وکړو-

## که په قِسمت کښې څۀ بل څۀ وے نو---

زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یوې ښکلې ادا په باره کښې واورئ! حضرت انس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ما لس کاله د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خدمت وکړو، کله به زما د لاس نه کار خراب هم شو خو رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چرې هم زۀ ملامته کړے نۀ یم (یعني زۀ یې نۀ یم رټلے)، که په کور والۀ کښې به چا ما ته څۀ وئیل نو هغوئي به فرمائیل: دَعُوْهُ فَاِنَّهٗ لَوْ قُضِيَ شَيْءٌ كَانَ یعني دا پریږدئ! که څۀ بل څۀ په قِسمت کښې وو نو هغه به کیدل- (1)

1...مشکاۃ المصابیح، کتاب احوال القیامة...الخ، باب فی اخلاقه...الخ، جلد:2، صفحه:366، حدیث:5819-

## نو کور به جنَّت شي----

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے سوچ دے، څومره ځانګړے انداز دے---!! د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الأُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: که مونږ د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې طریقه باندې عمل وکړو نو ثواب به مو هم وشي او زمونږ د کورونو نه به جنَّت هم جوړ شي، چرې به پکښې هم جنګ جګړې نۀ کیږي، په کورونو کښې فساد، جنګونه د دې څیز (یعني د نبوي انداز) د هیریدو په وجه کیږي-(1)

الله پاک دې مونږ ته هم د داسې ښکلي سوچ توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د ځان خوښۍ نه ډډه وکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! قیمتي آئینه ماته شوه، حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه څومره ښکلې جمله وفرمائیله:

خُوۡب شُدۡ کِهٖ اَسۡبَابِ خُوۡدۡبِیۡنِیۡ شِکَسۡت

ترجمه: یعني ښۀ وشو چې ځان ته د کتلو آله ماته شوه-

د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه د دې ادا نه معلومه شوه چې هغوئي به ځان ته د کتلو نه ځان ساتلو، یعني د ځان خوښۍ نه به یې ځان بچ ساتلو-

## خلقو ته خپله پاکي مۀ بیانوه

دا هم د زړکړې خبره ده، ځان خوښي ډیره نقصاني باطني بیماري ده- د دې نه بچ کیدل ډیر ضروري دي- الله پاک فرمائي:

---

1...مرآۃالمناجیح، جلد:8، صفحه:77۔

| | |
|---|---|
| فَلَا تُزَكُّوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ ؕ هُوَ اَعۡلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ﴿۳۲﴾ (پاره:27، سورۀ نجم:32) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو تاسو پخپله د خپلو ځانونو پاکي مهٔ بیانوئ، هغه ښهٔ پیژني هُغه څوک چې پرهیزګار وي- |

د دې آيت مبارک لاندې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: دا آيت د هُغه خلقو په باره کښې نازل شوے کومو چې به پهٔ خپلو نيکو باندې فخر کولو او د فخر پهٔ انداز کښې به يې وئيل چې زمونږه نمونځونه داسې دي! زمونږه روژې داسې دي! مونږ داسې يو! د هغهٔ (يعنې د **الله** پاک) پيژندل کافي دي تهٔ خپله تقوىٰ او پاکي د خلقو پهٔ مخکښې ولې بيانوې! مزه خو هله کوي چې بنده پخپله وائي: زهٔ ګنهګار يم او رَبّ ووائي: دا پرهيزګاره دے! لکه ابو بکر صِدِّيق (رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ) (1)

## که د الله پاک فضل نهٔ وے نو---

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ چې څهٔ هم يو، د **الله** پاک پهٔ فضل سره يو، د هغهٔ پهٔ احسان سره يو، که مونږ نـمونځ ګزاره يو نو زمونږ پکښې هيڅ کمال نشته، د هُغه رَبِّ کريم فضل دے، که زمونږه د تلاوت توفيق نصيب کيږي نو د هُغه رَبِّ کريم فضل دے، که زمونږه د صدقې خيرات توفيق نصيب کيږي نو د هُغه رَبِّ کريم فضل دے، که زمونږ مخ ښکلے دے نو د هغهٔ فضل دے، که مونږ تعليم يافته يو نو د هغهٔ فضل دے، څهٔ چې هم دي، زمونږ خپل څهٔ کمال پکښې نشته، د هُغه رَبِّ کريم فضل دے او بس فضل دے- پهٔ قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| فَلَوۡلَا فَضۡلُ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهٗ لَكُنۡتُمۡ مِّنَ الۡخٰسِرِيۡنَ ﴿۶۴﴾ (پاره:1، سورۀ بقره:64) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو که پهٔ تاسو د الله فضل او د هغهٔ رحمت نهٔ وے نو تاسو به د نقصان اوچتوونکو نه شوي وے- |

الله! الله! که د **الله** پاک فضل نهٔ وے نو مونږ به چرته وو---؟ څهٔ به مو کول؟ څهٔ به مو

1...تفسير نور العرفان، پاره:27، سورۀ نجم، زيرِ آيت:32، صفحه:841-

خوړل؟ څۀ به مو اغوستل؟ خلق په شراب خانو کښې ناست دي، میوزک کنسرټ ته ځي، د ګناهونو پۀ اډو کښې خپل ژوند بربادوي، حرام خوري، حرام څښي، حرام وائي، حرامویني، حرام اوري۔

مونږ دِیني اجتماع ته راغلي یو، دا د **اللّٰه** پاک فضل دے، دِیني سوچ مو نصیب شوے دے، د **اللّٰه** پاک فضل دے، ایمان مو نصیب شوے دے، دا هم د **اللّٰه** پاک فضل دے۔ ځکه خپل ځان ته د کتلو پۀ ځائے هر وخت د **اللّٰه** پاک فضل ته نظر کوئ!

## زۀ د اللّٰه فضل بچ کړم

د حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ مشهوره واقعه ده، هغوئي ډیر کلونه پۀ ځنګلونو کښې تیر کړل او مجاهدې یې وکړې، فرمائي: یو ځل د یو ځنګل طرف ته لاړم او هلته ډیرې ورځې ووم۔ د خوراک څښاک د پاره هیڅ هم نۀ وو۔ زۀ سخت ترږے شوے ووم، پۀ دې کښې زما پۀ سر باندې د وریځې یوه ټوټه راښکاره شوه، د هغې نه د باران یو څو څاڅکي وشو کوم چې ما وڅښل، د دې نه پس د وریځو نه یو نوراني شکل ظاهر شو پۀ کوم باندې چې د اسمان غاړې روښانه شوې او یو اواز راغلو: اے عبدُ القادره! زۀ ستا رَبّ یم، ما ټول حرام څیزونه ستا د پاره حلال کړل۔ فرمائي په دې اوریددو فورا ما اَعُوۡذُبِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡم ولوستل، یو دم رڼا ختمه شوه او هغې لوږے شکل اختیار کړو او اواز راغلو: اے عبدُ القادره! د دې نه مخکښې ما 70 اولیاء ګمراه کړي دي خو تۀ ستا عِلم بچ کړې۔ حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: ما ووئیل: **اے مردوده! زۀ خپل عِلم نۀ بلکې زما د رَبّ فضل بچ کړم۔** (1)

هوں ایمان کے ساتھ دنیا سے رخصت | یہی عرض ہے آخری غوث اعظم

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** وګورئ چې دا د شیطان څومره لوئي ګزار وو، اول خو دا

1...بَهۡجَةُ الۡاَسۡرَار، ذکر شیء من اجوبته...الخ، صفحه:228

چې شیطان په كومه عجیبه طریقه ګزار وكړو، غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه ته معلومه شوه چې دا شیطان لعین دے- بیا هُغه بد بخته په تلو تلو كښې هم د ګزار نه منع نۀ شو، په روانه روانه كښې وائي: اے عبد القادره! تۀ ستا عِلم بچ كړې- غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه خپل ځان ته نۀ كتل، په ځان خوښۍ كښې نۀ اخته كیدو، نو هغوئي د شیطان دا ګزار هم ناكامه كړو او اوئې فرمائیل: اے مردوده! زۀ زما عِلم نۀ بلكې د **اللّٰه** پاک فضل بچ كړے یم- دا انداز مونږ له هم اختیارول پكار دي- كه په ځان خوښۍ كښې اخته شوی، ❁ زۀ نـمونځ ګزاره یم ❁ زۀ حاجي یم ❁ زۀ قاري یم ❁ زۀ تعلیم یافته یم ❁ زما سره عِلم دے ❁ زۀ فلانكے یم- په دې **زۀ زۀ** كښې اخته شوی نو بیا پوهه شئ چې د كار نه ووتی-

## په هلاكت كښې غورځوونكي درې څیزونه

**حدیثِ پاک كښې دي چې:** درې څیزونه په هلاكت كښې غورځوونكي دي: (1): بخل چې پیروي یې وكړې (2): د نفس خواهش چې تابعداري یې وكړے شي او (3): د انسان ځان ښه ګڼل-[1]

**اللّٰه** پاک دې مونږ د هلاكت نه محفوظ كړي- د ځان خوښۍ او د نورو باطني بیمارو نه دې راته نجات راعطا كړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## د غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه یو څو نورې ښكلې اداګانې

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه په ښكلو اداګانو كښې دا هم دي چې ❁ هغوئي به د ډیرې اوچتې مرتبې لرلو باوجود د ماشومانو سره كیناستو، د غریبانانو او د فقیرانو سره به یې په كیناستو كښې شرم نۀ محسوسولو ❁ خلقو له به یې ښې مشورې وركولې ❁ كه نیک به وو او كه بد، ټولو له به یې عزت وركولو، په خپله بارګاه

1…حلیة الاولیا، جلد:2، صفحه:183، رقم:1865-

کښې به يـې کښېنولو- يو ځل د هغوئي پۀ خدمت کښې عرض وکړے شو: حُضُور! آيا ستاسو پۀ شاګردانو کښې نيکان او ګنهګاران ټول راجمع دي؟ اوئې فرمائيل: آؤ! نيکان زما د پاره دي او د ګنهګارانو د پاره زۀ يم-

سب کا کوئی نہ کوئی دنیا میں آسرا ہے | میرا بجز تمہارا کوئی نہیں سہارا

✿ غوثُ الاعظم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ به پۀ جنازو کښې شرکت کولو ✿ ډير سخي وو، ټولو ته به يـې عطا کوله ✿ ډير خاموشه اوسيدونکـے وو ✿ ډير حيا دار وو ✿ څوک چې به هم د هغوئي خوا له راتلل نو هغوئي له به يـې عزت ورکولو ✿ که د هغوئي خادم به ستړے وو نو هغۀ له به يـې د ارام موقع ورکوله، ځېنې به بازار ته تللو او سودا به يـې راوړله ✿ چې سفر به يـې کولو نو ورسره چې به کوم خادم يا غلام يا مريدان وو هغوئي ته به يـې ارام رسولو، ځېنې به يـې غنم وړۀ کول، ځېنې به يـې وړۀ اخکل، ځېنې به يـې ډوډۍ پخوله او د سفر پۀ ملګرو خادمانو، غلامانو باندې به يـې ډوډۍ خوړله ✿ پۀ کور والؤ باندې هم ډير مهربانه وو، کله چې به يـې هم کور ودانې محترمه ناروغه وه نو د کور کارونه به يـې ځېنې کول-

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا څومره ښکلې ښکلې اداګانې دي، کاش چې مونږ هم دا اداګانې اختيار کړو، پۀ نورو باندې شفقت وکړو، همدردي وکړو، د هر يو پۀ کار راشو، چې څومره رانه کيدے شي نو نورو ته فائده رسوو، عاجزي کوو، د عام بنده پۀ شان ساده ژوند تيروو، زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم انداز مبارک هم دا وو، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډيرې عاجزۍ کولو والا وو، د کور سامان به يـې پۀ خپلو اوګو مبارکو باندې راوړلو، پۀ کار کښې به يـې د کور والؤ مدد کولو- دا ټول کارونه مونږ له هم کول پکار دي-

افسوس چې نن سبا خلق شرم محسوسوي، خلق خپل کارونه کول هم خپله بے عزتي

کېږي- ډير خلق په خپلو لاسونو خپل کارونه نشي کولے- د اوبو ښښلو د پاره پاځيدل هم بعضې خلقو ته ګران وي، هڅې بے هيڅه نورو خلقو له تکليف ورکوي چې اے فلانکيه! اوبه راباندې وښښه!

آؤ که څۀ مجبوري وي، بعضې وخت انسان ستړے وي، په څۀ ضروري کار کښې مصروف وي، په داسې حالت کښې بَل ته وئيل بيله خبره ده، د سهل پسندۍ عادت جوړول، دا ډيره بده خبره ده- خپل کار په خپلو لاسونو کولو کښې ډير برکت وي- او د کور کار کول، د ضرورت په وخت لوښي وينځل، په جامو وينځلو کښې د کور والؤ مدد کول، کله چې د ماشومانو مور ناروغه وي نو د کور صفائي وغيره هم کول، خوراک تيارول، دې خبرو ته خو خلق مَعَاذَالله! د ښځې غلامۍ نوم ورکوي-

وروره! دا خو سُنَّت طريقه ده- اخر کور والا هم انسانان دي، که مونږ د هغوئي مدد نۀ کوو نو څوک به يې کوي- د حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھا نه چا پوښتنه کړې وه چې خوږ محبوب صَلَّی‌اللّٰہُ‌عَلَیۡہِ‌وَاٰلِہٖ‌وَسَلَّم به په کور کښې څۀ کول؟ اوئې فرمائيل: كَانَ فِي مِهْنَةِ اَهْلِهِ يعنې محبوبِ ذِيشان صَلَّی‌اللّٰہُ‌عَلَیۡہِ‌وَاٰلِہٖ‌وَسَلَّم به (د امام الانبيا کيدو باوجود) چې کله کور ته تشريف راوړلو نو د کور والؤ سره به يې لاس اړولو-[1]

خير! دا سُنَّت طريقې دي، مونږ له اختيارول پکار دي! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د زړۀ سکون به مو هم نصيب کيږي او په کور کښې به امن هم قائم شي-

## د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَیۡه په طالبِ علمانو باندې شفقت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَیۡه په ښکلو اداګانو کښې يوه ښکلې ادا دا هم ده چې هغوئي سخي وو، خاص طور به يې په غريبانانو او طالبِ علمانو

---

1... بخاری، کتاب النفقات، باب خدمة الرجل فی اہله، صفحه:1375، حدیث:5363۔

باندې ښهٔ شفقت کولو، د هغوئي مدرسې ته به طالبِ علمان د سبق د زده کولو د پاره راتلل، که د چا سره به کتابونه او قلم وغیره نهٔ وو نو هغوئي له به يې کتابونه اخستل، قلمونه به يې ورعطا کول او پهٔ طالبِ علمانو باندې به يې ډوډۍ هم خوړله۔ (1)

## خلقو---!! سخیان شئ!

يو ځل حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ خپله مدرسه کښې بیان وکړو، پهٔ هغې کښې هغوئي وفرمائیل: اے مالدارو! که د دُنیا او د اخرت خیر غواړئ نو د خپل مال پهٔ ذریعه باندې د غریبانو سره همدردي وکړئ! بیا غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ يو حدیثِ پاک بیان کړو:(2) د **اللّٰه** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: خلق د **اللّٰه** پاک عِیَال (یعنې بندګان) دي، د **اللّٰه** پاک زیات خوښ هغه دے کوم چې د **اللّٰه** پاک عِیَال ته ډیره فائده رسوونکے وي۔ (3)

## د يو پریشانه غریب کَس زړهٔ ساتنه

د اَبُو عبد الله محمد بن خضر حُسیني رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ نه روایت دے چې يوه ورځ د سرکار غوثِ اعظم شیخ عبد القادر جیلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ نظر پهٔ يو پریشانه فقیر باندې پریوتو، يو مسلمان چې يې د خفګان او غم پهٔ حالت کښې ولیدو نو حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ نا قلاره شو او پوښتنه يې وکړه: مَاشَاْنُكَ یعنې پهٔ تا څهٔ شوي دي؟ فقیر پهٔ جواب کښې عرض وکړو: عالي جاه! زهٔ د دجله دریاب هُغه غاړې ته تلل غواړم خو پیسې راسره نشته، ماڼکے (یعنې کشتۍ چلولو والا) د کرایه نه بغیر پهٔ کشتۍ کښې کښینولو ته تیار نهٔ دے- د ماڼکي د دې رویې پهٔ وجه زما زړهٔ مات شو چې که زما سره پیسې وے نو زهٔ به داسې نهٔ مایوسه کیدم۔

1...غوث پاک کی مجاہدانہ زندگی، جلد:1، صفحہ:305 مفصلاً۔
2...فتح الربانی، المجلس التاسع و العشرون، صفحہ:127۔
3...موسُوعہ ابنِ ابی دُنیا، کتاب قضاء الحوائج، جلد:4، صفحہ:159، حدیث:24۔

راوي وائي چې لا د فقير خبره نهٔ وه پوره شوې چې يو ګس بارګاهِ غوثيت ته حاضر شو، هغهٔ د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ خدمت کښې يوه تيلۍ د نذرانې پهٔ توګه وړاندې کړه، پهٔ هُغه تيلۍ کښې 30 ديناره (يعنې د سرو زرو سِکې) وې، غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هُغه 30 واړه ديناره هُغه غريب له ورکړل او اوئې فرمائيل: دا ټول دينارونه ماڼګي له ورکړه او ورته ووايه چې بيا د پاره چا غريب ته پهٔ درياب د اړولو نه اِنکار نهٔ کوي۔ [1]

| | |
|---|---|
| اسیروں کے مشکل کشا غوثِ اعظم! | فقیروں کے حاجت روا غوثِ اعظم! |
| گھرا ہے بلاؤں میں بندہ تمہارا | مدد کے لیے آؤ یاغوثِ اعظم! |

## د سخاوت فضيلتونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** وګورئ چې حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خومره سخي دے، يو غريب چې يې پهٔ خفګان کښې پريشانه وليدو نو برداشت يې نکړے شو، فوراً يې د هغهٔ مدد وکړو۔ مونږ له هم پکار دي چې سخاوت اختيار کړو۔ **الله** پاک چې خومره راعطا کړي دي، پهٔ هغې کښې چې خومره کيديشي ، څهٔ نا څهٔ حصه د صدقې او د خيرات هم ضرور وساتو، سخاوت وکړو۔ او عرض يو وکړم: د سخي کيدو د پاره لويه خزانه نهٔ بلکې د لوئي زړهٔ ضرورت دے۔ ډير خلق د کومو چې لوئي لوئي خزانې دي خو زړونه يې واړه واړه دي، لهذا مال اګر که کم وي، زړهٔ لوئي ساتئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! ❁ پهٔ حديثِ پاک کښې دي: سخاوت د جنّت پهٔ ونو کښې يوه ونه ده، د کومې څانګې چې د زمکې طرف ته راښکته شوې دي، کوم ګس چې پهٔ دې کښې يوه څانګه اونيسي، هغه، هغه د جنّت طرف ته بوځي۔ [2] ❁ د **الله** پاک خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: د سخي غلطي معاف کوئ، ځکه چې کله هم هغه غلطي کوي نو **الله** پاک

---

1...بَهْجَةُ الْاَسْرَار، صفحه:199۔

2...شعب الايمان، باب فى الجود والسخاء، جلد:7، صفحه:435، حديث:10875۔

د هغهٔ لاس نیسي [1] یعنې الله پاک چې د چا مددګار وي هغه پهٔ هلاکت کښې د غورځیدو نه بچ کوي۔ [2] ❁ پهٔ یو روایت کښې دي: جنَّت د سخیانو کور دے۔ [3] ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: سخي الله پاک ته نزدې دے، جنَّت ته نزدې دے، خلقو ته نزدې دے، د وور نه لرې دے۔ [4]

## د تیلي تهون ترغیب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي پهٔ دِیني او د خیر بنیګړې پهٔ خدمت کښې مصروف دے۔ اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! ❁ د کنزُ الــمدارس بورډ پهٔ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلیمي بورډ دے ❁ تقریباً 20 زره 235 جامعات او مدارسُ الــمدینه د هلکانو او جینکو (Boys & Girls) د پاره قائم دي، پهٔ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات (Specialization)، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ الــمدینه (بوائز اینډ ګرلز) د طالبِ علمانو شمیره څه کم یا زیاته 5 لاکهه 65 زره 695 ده ❁ د زیات عمر اِسلامي ورونړو او خوئیندو ته د قرآنِ کریم تعلیم ورکولو د پاره پهٔ زرګونو مدارس الــمدینه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د لوستونکو اِسلامي ورونړو او خوئیندو شمیره پهٔ لکونو کښې ده ❁ د فیضان آن لائن اکیډمی پهٔ ذریعه تقریباً 27 زره طالبِ علمان دیني تعلیم حاصلوي او د 60 زرو نه زیاتو طالبِ علمانو مختلف کورسونه مکمل کړي دي ❁ اوسه پورې تقریباً 21 دار الافتاء اهلسنت جوړ کړے شوي دي

---

1…شعب الایمان، باب فی الجود و السخاء، جلد:7، صفحه:433، حدیث:10867۔
2…اتحاف السادة المتقین، جلد:9، صفحه:725 ملخصاً۔
3…فردوس الاخبار، جلد:1، صفحه:333، حدیث:2430۔
4…ترمذی، کتاب البر و الصلة، باب ما جاء فی السخاء، صفحه:479، حدیث:1961۔

په کومو کښې چې د شرعي رهنمايو شميره د مياشتې **اوسطاً 20 زره** ده ❁ د **الــمدينةُ العلميه** ***(Islamic Research Center)*** په ذريعه په ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د دې شعبې لاندې اوسه پورې په **2045 کتابونو او رسالو** باندې کار شوے دے ❁ په سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب ***(YouTube)***، فيس بُک ***(Facebook)***، انسټا ګرام ***(Instagram)*** وغيره باندې موجود اکاؤنټس، په کومو) باندې چې تقريباً **60.43 مليَنه** ***(Million)*** يعنې **6 کروړه 43 لاکهه** فالورز ***(Followers)***دي ❁ د مَدَني چينل، اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز ***(Kids)*** مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربۍ د ويب چينل په ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي ❁ د آئي ټي شعبې د طرف نه اوسه پورې **35 موبائل ايپلي کيشن** او **44 اِسلامک ويب سائټس** جوړ کړے شوي دي
❁ په تيرو **12 مياشتو** کښې تقريباً **9 لاکهه 60 زره** اِسلامي ورونړو په قافله کښې سفر وکړو
❁ د شعبه کورسز د لاندې اوسه پورې تقريباً **92 زره 455** کورسونه شوي دي او د **19 لاکهه** نه زياتو کسانو په دې کورسونو کښې شرکت کړے دے ❁ په هفته واره اِجتماع کښې د شرکت کوونکو شميره اوسطاً **6 لاکهه** ده ❁ ټرانسليشن ډيپارټمنټ اوسه پورې په **45 ژبو** کښې د **8 زره** کتابونو او رسالو ترجمه کړې ده ❁ د خُدام الــمساجد او الــمدارس الــمدينه لاندې تقريباً **7 زره 243** جوماتونه جوړ کړے شوي دي۔

د دې ټولو کارونو او د دعوتِ اِسلامي د ټولو دِيني او د خير ښيګړې کارونو جاري ساتلو د پاره د دعوتِ اِسلامي په اربونو روپو خرچې دي۔ د دې خرچو پوره کولو د پاره اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! په **12 اکتوبر کال 2025** کيږي: **ټيلي تهون**، د کوم يو يونټ چې 10 زره پاکستانۍ روپۍ دي۔ خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په هر قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښيګړې، په ښو او د امدن زياتولو په جائز او محفوظو کارونو کښې لګيدے شي د پاره د دې چې زياتېدونکي خرچې پرې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللّٰہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# په قافله کښې د سفر ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې د زده کولو او ښودلو جذبه ورکولے شي، اسلامي وروڼه د دې مقصد حاصلولو د پاره په قافلو کښې سفر کوي، د [علمِ دين] زده کولو او ښودلو د جذبې سره سره په قافلو کښې د الله والؤ فيضان ترلاسه کيږي، د عبادت جذبه زياتيږي، د نيک نمونځ ګزاره جوړيدو ذهن جوړيږي.

تاسو ته خواست دے چې تاسو هم په قافله کښې سفر کوئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم! ډير برکتونه به حاصل کړئ ۞ په قافله کښې فرض علمِ دين ښودلے شي ۞سنت ښودلے شي ۞ د تهجد کولو سعادت حاصليږي ۞د نيکۍ د دعوت عام کولو موقع ترلاسه کيږي ۞ د قافلې په برکت سره د دعاګانو قبليدو ۞ د مشکلاتو لرې کيدو ۞ د بيمارو نه د شفا حاصلولو په سوونو واقعات هم شته ۞ داسې هم شوي دي چې په قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د حوصله افزائي د پاره خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائيلے دے، په خوب کښې يې تشريف راوړے دے او د قافلې شُرکاؤ ته يې د ديدار مبارک سعادت ورکړے دے.

مونږ له هُم پکار دي چې په قافله کښې سفر اوکړو، څه معلومه ده چې په مونږ باندې هم کرم اوشي. کم از کم هره مياشت د 3 ورځو په قافله کښې د سفر کولو نيت اوکړئ! بلکې بهتره به دا وي چې هم اوس نيت اوليکئ! راځئ چې د ترغيب د پاره يوه مدني سپرلے واورو.

# سترګې يې روښانه شوې

په حيدر آباد (پاکستان) کښې د دعوتِ اسلامي يو مبلغ يو ځلمي ته د قافلې دعوت

ورکړو په دې باندې هغه غصه شو او اوئې وئيل، تاسو له د چا د پريشانۍ خيال هم کول پکار دي، زما د مور د سترګو آپريشن ډاکټرانو غلط کړے دے او د هغې په وجه يـې د سترګو نظر ختم شوے دے، مونږ دومره پريشانه يو او تاسو وايئ چې: په قافله کښې سفر اوکړه. مبلغ اسلامي ورور ورته په همدردانه انداز کښې د دعا ورکولو سره سره اووئيل چې: **الله** پاک دې ستاسو مور ته شفا ورکړي. ډاکټران څه وائي؟ هغۀ اووئيل، ډاکټران وائي چې اوس يـې که امريکې ته بوځئ نو بيا هم علاج نه شي کيدے. دا خبره کولو سره هغۀ له ژړا ورغله. مبلغ په ډيره مينه د هغۀ شا وډبوله او د تسلئ ورکولو په انداز کښې اووئيل: وروره! که ډاکټرانو جواب ورکړے دے نو په دې باندې مۀ مايوسه کيږئ، **الله** پاک شفا ورکونکے دے، **الله** پاک د مسافر دعا قبلوي، تاسو په قافله کښې سفر اوکړئ او په دې دوران کښې د مور د پاره دعا هم اوغواړئ. د مبلغ اسلامي ورور د تسلئ نه ډکو خبرو په نتيجه کښې هغه غمژن ځلمي په قافله کښې سفر اوکړو، د سفر په دوران کښې يـې د مور د پاره ډيرې دعاګانې وکړې. کله چې واپس کور ته راغلو نو ډير زيات خوشحاله شو ځکه چې د قافلې په برکت سره د هغۀ د مور سترګې روښاه [يعني بِينا] شوې وې.

لُوٹنے رَحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
چشمِ بینا ملے سُکھ سے جینا ملے | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د صِرَاطُ الـجنان ايپلي کيشن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! دعوتِ اِسلامي مونږ ته د جديد ټيکنالوجۍ پۀ ذريعه هم د عِلمِ دِين ښودلو او د نيکۍ د دعوت عام کولو موقعې راکوي- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې ***Sirat ul Jinan Quran & Tafsir*** (صِرَاطُ الـجنان قرآن اينډ تفسير) دے- پۀ دې ايپلي کيشن کښې ❀ مکمل قرآنِ کريم ❀ د اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت، شاه

امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ لیکلي ترجمهٔ کنز الایمان ❁ اسانه ترجمه کنز العرفان او ❁ پهٔ اسان انداز کښې لیکلے شوے تفسیر صِرَاطُ الـجنان شامل دے- ❁ قرآنِ کریم، ترجمه او تفسیر پهٔ آډیو (*Audio*) کښې هم اوریدے شئ- ❁ هره ورځ تلاوت کیدونکي سورتونه بیل جمع کړے شوي دي ❁ د مَدَني چینل تفسیرِ قرآن او مختلف قرآني پروګرامونه هم د دې ایپلي کیشن پهٔ ذریعه پهٔ اسانۍ سره کتے شئ ❁ نور دا چې قرآني آیتونه، ترجمه او تفسیر پهٔ وټس ایپ (*Whats App*)، پهٔ فیس بُک (*Facebook*) وغیره باندې د خپلو دوستانو سره شیئر کولے هم شئ- دا ایپلي کیشن پهٔ خپل موبائل کښې انستال کړئ، عِلمِ دِین زده کړئ او نورو ته د رسولو سره د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

د یولسمې شریف د دې مقدسې اجتماع پهٔ مناسبت سره مکـتبة الـمدینه راوړے دے یو ډیر ایمان تازه کوونکے او د غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د عشق زیاتولو والا کتاب **غوثِ پاک کے حالات**- دا کتاب د غوثِ الاعظم، حُضُور شیخ عبد القادر جیلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ سیرت باندې مشتمل دے-

پهٔ دې کتاب کښې د غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د ماشومتوب ایمان تازه کوونکې واقعې، د هغوئي د مجاهدې ژوند، زهد او تقویٰ، د دِین د پاره خدمتونه او ډیر کرامات پهٔ ښکلي او اثرناک انداز کښې راجمع کړے شوي دي- دا کتاب د مکـتبة الـمدینه نه پهٔ **100 روپۍ** پهٔ بیعه واخلئ-

❁ د یولسمې شریف پهٔ مبارکه موقع باندې رسالې تقسیمې کړئ او عِلمِ دِین عام کړئ، د یولسمې شریف د نیاز سره سره ښې ډیرې رسالې تقسیمې کړئ **فیضانِ غوثیه پیکج** د مکـتبة الـمدینه د بستې نه پهٔ **200 روپۍ** پهٔ بیعه حاصل کړئ-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدۡ اَحَبَّنِی وَمَنۡ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الۡجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي-[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مسواک کولو سُنَّت او آداب

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک: (1):** دوه رکعته د مسواک سره ادا کول بغير د مسواک نه د 70 رکعتونو نه افضل دي-[2] **(2):** د مسواک استعمال د ځان د پاره لازمي کړئ ځکه چې په دې کښې د خُلې صفائي ده او د **اللّٰه** پاک د رضا سبب دے-[3]

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** ❁ حُضُور نبي پاک صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هره شپه بيا بيا مسواک کولو، هر ځل د اودهٔ کيدلو په وخت هم او د بيداريدلو په وخت هم ❁ بغير د ښهٔ نيت نه د مسواک کولو سره خو به طِبي فائدې (***Physical Benefits***) حاصلې شي خو ثواب به نهٔ ميلاؤيږي، مثلاً که د اوداسهٔ د پاره مسواک کول وي نو دا درې نيتونه وکړئ: د **اللّٰه** پاک د رضاء، د سُنَّت ادا کولو او د ذِکر او درود د پاره د خُلې پاکولو په غرض مسواک کووم ❁ مشائخِ کرام فرمائي: څوک چې د مسواک عادت لري په ځنکدن کښې به ورته کلمه وئيل نصيب کيږي ❁ د حضرت عبد الله ابن عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې په مسواک کښې 10 خوبياني دي: ❁ خُله صفا کوي ❁ وورى

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

2...اَلتَّرغِیْب وَالتَّرہِیب، کتاب: الطھارۃ، الترغیب فی السواک، صفحہ:86، حدیث:18۔

3...مسند امام احمد، جلد:2، صفحہ:438، حدیث:5869۔

مضبوطوي ❁ نظر تيزوي ❁ بلغم لرې کوي ❁ د خُلي بدبوئي ختموي ❁ د سُنَّت موافق دے ❁ په مسواک کولو فرښتے خوشحالیږي ❁ په مسواک کولو رَبّ رضا کیږي ❁ مسواک نیکۍ زیاتوي او معده صحیح کوي ❁ مسواک په ښي لاس کښې داسې نیسۀ چې ګوته د دې نه لاندې او د مینځ درې ګوتې بره او غټه ګوته يې په سر وي ❁ مسواک چې کله د استعمال قابل پاتې نۀ شي نو غورځوۍ يې مۀ ځکه چې دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، په احتياط سره يې په يو ځائے کښې کیږدئ يا يې ښخ کړئ يا يې د کاڼي وغيره وزن سره وتړئ او په سمندر (يا سيند وغيره) کښې يې ډوب کړئ۔ (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

جو ہیں وَقف، سنّت کی خدمت کی خاطر | نہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم
سفر قافلے میں جو کرتے ہیں ہر ماہ | انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم
جو دیں راہِ مولا میں بارہ مہینے | انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم (2)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1… 550 سنتیں اور آداب، صفحہ:50-47۔

2… وسائلِ بخشش، صفحہ:551-550 ملتقطًا۔